# الحجرات

**مدنی سورة دی ۱۸ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١

**ای د ایمان خاوندانو! (په هیڅ یوه دینی مسأله کې ) د الله تعالی او د هغه د رسول( له حکم) نه وړاندې( په تلوار او بدعت سره) خپله فیصله مه صادروئ، له الله تعالی نه وویرېږئ، بیشکه چې الله تعالی اوریدونکی او پوه ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٢

**ای مؤمنانو!( د پیغمبر ادب او احترام ساتئ) په لوړ آواز او بې اعتنایئ او د خپلمنځی خبرو په شان ورسره خبرې مه کوئ او خپل آواز هم د هغه له آواز نه مه اوچتوئ، هسې نه چې په ناپوهئ کې خپل( نیک) اعمال تباه او برباد کړئ.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ٣

**هغه کسان چې خپل آوازونه د پیغمبر په حضور کې ټیټ ساتئ، الله تعالی یې زړونه د پرهیزګارئ لپاره د ازمیښتونو له بټئ تیر کړی او ښښنه او لوی اجر یې په برخه دی( هغه زړونه چې د رسول الله له ادب او احترام نه ډک وی په حقیقت کې له تقوی او مخلصانه ایمان نه هم ډک دی).**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا
يَعۡقِلُونَ ٤

**هغه کسان( د بنو تمیم د اعرابو جرگه) چې د حجرې له بهر نه تاته نارې وهی( ای محمده راووځه مونږ درسره خبرې کوو) زیاتره یې ( ستا له عظمت نه) ناخبره دی.**

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ صَبَرُواْ حَتَّىٰ تَخۡرُجَ إِلَيۡهِمۡ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٥

**د دوی خیر خو په دې کې و چې صبر یې کړی وی( او د اخلاقی اصولو او ایجاباتو له مخې منتظر وی تر څو، ته د معمول سره سم پخپل وخت) ورته راوتلی وی، البته الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی( ښښنه به ورته وکړی خو دغه ډول بې ادبی باید تکرار نشی).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا
بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ٦

**ای مؤمنانو! که کوم فاسق (جاسوس) درته کوم خبر راوړی، نو( په تلوار اقدام مه کوئ او) دقیق غور او څیړنه پکې وکړئ، هسې نه چې په ناپوهۍ کې کومې ډلې( یا شخص) ته زیان واړوئ، او بیا وروسته پخپلو کړو پښیمانه شئ.**

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمۡ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوۡ يُطِيعُكُمۡ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ لَعَنِتُّمۡ وَلَٰكِنَّ
ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ
وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ٧

**او وپوهیږئ چې د الله تعالی رسول ستاسو سره موجود دی( او تاسو باید په هره مسأله کې یوازې د هغه امر ومنئ) که هغه په ډیرو کارونو کې ستاسو فرمایش ومنی نو تاسو به له سختو ستونزو سره مخامخ شئ، خو الله تعالی درته د ایمان مینه درکړه او هغه یې تاسو ته په زړه پورې او معقول ښکاره کړ، او د کفر، بدکاری او نافرمانی نفرت یې درته په زړونو کې واچاوه . په همدغو مشخصاتو متصف کسان د هدایت په مستقیمه لار روان دی.**

فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعْمَةً ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٨﴾

**(له حق سره دغه مينه او له باطل نه کرکه) په حقيقت کې د الله تعالی يوه لويه لورينه ده، او الله تعالی په ټولو چارو پوه او د حکمت څښتن دی.**

وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا ۖ فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى ٱلْأُخْرَىٰ فَقَـٰتِلُوا۟ ٱلَّتِى تَبْغِى حَتَّىٰ تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن فَآءَتْ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا بِٱلْعَدْلِ وَأَقْسِطُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٩﴾

**او که د مؤمنانو دوه ډلې په خپل منځ کې سره ونښلی نو ترمنځ يې روغه جوړه وکړی. که يوه ډله په بله زياتی وکړی، تاسو د تيری کوونکې ډلې په ضد، تر هغه وجنګيږئ ترڅو د الله تعالی حکم ته غاړه کيږدی، نو که( له ظلم او تيری نه) لاس واخلی، د عدالت او انصاف په رڼا کې دواړه غاړې سره پخلا کړئ او په حق او انصاف ټينګ ودريږئ ځکه الله تعالی له انصاف کوونکو سره مينه کوی.**

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

**بې له شکه چې مؤمنان يو له بله سره وروڼه دی( نو په ټولو جنجالونو او اختلافاتو کې) د خپلو وروڼو ترمنځ سوله ټينګه کړئ او له الله تعالی نه وويريږئ تر څو دربانديې رحم وکړی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ
وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا
تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ
فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١١﴾

**ای د ایمان خاوندانو! هیڅکله په یو بل ټوکې او مسخرې مه کوی، کیدی شی، مسخره کړی شوې له مسخره کوونکو څخه ښه او برتر وی او نه دې ښځې په نورو ښځو ټوکې او ملنډې وهی، کیدی شی توهینیدونکې ښځې له توهینوونکو څخه ښې او غوره وی. او د یو بل عیبونه مه بیانوئ، او یو بل په ناوړو القابو هم مه یادوئ، له ایمان راوړلو نه وروسته چا ته د فاسق خطاب کول ډیر ناوړه کار دی، او هغه کسان چې( د دې احکامو او هدایاتو له اوریدو وروسته له خپلو دغو ناوړه عادتونو څخه) توبه و نه کړی، نو( پخپلو ځانونو لوی ظالمان دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا
تَجَسَّسُوا۟ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ
لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

**ای مؤمنانو( په یو بل باندې) ډول ډول ګومانونه مه کوئ، ځکه ځینې ګومانونه په ګناه کې شمیرل کیږی. د چا پټ رازونه هم مه پلټئ، او د یوبل غیبتونه هم مه کوئ، آیا کوم یو تن به مو دا خوښه کړئ چې د خپل مړ ورور غوښه وخورئ، بیشکه چې کرکه ترې کوئ او له الله تعالی نه وویرېږئ( په دې نصیحتونو عمل وکړئ او د خپلو تیرو ګناهونو ببښنه وغواړئ) ځکه الله تعالی توبه قبلوونکی او مهربان ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ
لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾

**ای انسانی پرګنو! تاسو ټول مې له یوه سړی( آدم) او یوې ښځې( حوا) پیدا کړئ، او بیا مې درنه ملتونه او قبیلې جوړې کړی تر څو یو بل وپیژنئ، خو د الله تعالی په نزد، په تاسو کې بهتر او غوره کسان،یوازې**

پرهیزګاران دی( نو په خپل اصل او نسب افتخار او تکبر مه کوئ ځکه د انسان د لویی او عزت اصلی معیار قلبی تقوی او ادب دی) چې یوازې الله تعالی وربانديې ښه پوه او باخبره دی.

۞ قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ وَلَٰكِن قُولُوٓا۟ أَسْلَمْنَا وَلَمَّا
يَدْخُلِ ٱلْإِيمَٰنُ فِى قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتْكُم مِّنْ
أَعْمَٰلِكُمْ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

بانده چی عربان وایی: مونږ ایمان راوړی، ورته ووایه ایمان مو نه دی راوړی بلکه اسلام مو منلی، او ایمان مو (لا تراوسه) زړونو ته ننوتی نه دی. نو که (په اخلاص سره) د الله تعالی او رسول اطاعت وکړی، (تیر ګناهونه به درته وبښی) او د نیکو اعمالو په (اجر او ثواب) کې به مو هیڅ کمې رانشی ځکه الله تعالی ډیر زیات بښونکی او مهربان ذات دی.

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا۟
وَجَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿١٥﴾

(واقعی او رښتینی) مؤمنان هغه دی چې په الله او رسول یې ایمان راوړی او بیا پکې متردد او دوه زړی شوی نه دی، بلکه د الله تعالی په لار کې ځانی او مالی قربانی ته هم تیار ولاړ دی، همدوی دی رښتینی (مؤمنان).

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمْ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى
ٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٦﴾

ورته ووایه: آیا تاسو الله تعالی له خپل ایمان نه خبروئ( او فکر کوئ چې هغه وربانديې خبر نه دی) په داسې حال کې چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې د هر موجود او مخلوق (په اسرارو) پوه او په ټولو چارو یې ډیر ښه خبر دی.

يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُم ۖ بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ
هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٧﴾

(كوچيان او بانډه چيان) د خپل اسلام منلو احسان په تا باروی( او وايی وګوره چې مونږ بې له جنګ جګړې ايمان راوړی)، ورته ووايه که رښتينی( مؤمنان) ياست نو د خپل اسلام منلو احسان په ما، مه باروئ بلکه د الله تعالی احسان ومنئ چې تاسو ته يې د ايمان لارښوونه کړې ده.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾

الله تعالی د آسمانونو او ځمکې په پټو اسرارو( او د زړونو په پټو خبرو او نيتونو) ډير ښه خبر دی او ستاسو ټولې کړنې هم ډيرې ښې وينی.

« تمت سورة الحجرات بفضل الله و رحمته والحمد لله رب العالمين»
====================